## د ماشوم د شیدو حق او د اولادونو ترمنځ واټن: د اسلام او طب په رڼا کې:

**لیکوال**: **ډاکټر محمد حسن عکاشه**

د طب له مخې د یو انسان په ژوند کې د ذهني، جسمي او روغتیایي ودې لپاره تر ټولو مهمه دوره د ژوند لومړی زر(۱۰۰۰) ورځې دي. که په دا زرورځو کې ده ته ښه پوره پاملرنه وشي او د ده د بدن ټول اړین مواد ورته ورسیږي نو د فزیکي او جسمي پلوه ډېره ښه وده کوي او په خپل ژوند کې د ډېرو ناروغیو څخه ژغورل کیږي. دا زرورځې د حمل د نیولو د لومړۍ ورځې څخه پیلیږي او نړۍ ته د راتلو یعني د پیدایش څخه وروسته تر لومړي دووکلونو پوري شامليږي.

اسلام هم دغه مودې ته خاصه پاملرنه کړې؛ یعني هم یې ماشوم ته د مور په نس کې د اړینو موادو د رسېدو لپاره د مېندواریانو ترمنځ و اټن باندې ټینګار کړی او هم یې د زېږنې وروسته دوه کاله ماشوم ته د شیدو په ورکولو ټینګار کړی. چې دا موده هماغه لومړۍ زرورځې کیږي چې اسلام ورته ځانګړې پاملرنه کړې.

قرآن کریم هم دغه مسأله په ډېر اهمیت یاده کړې ده، په دې اړه یې فرمایلي:﴿ وَٱلۡوَٰلِدَٰتُ يُرۡضِعۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ حَوۡلَيۡنِ كَامِلَيۡنِۖ لِمَنۡ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَۚ ﴾ البقرة: ۲۳۳

**ژباړه**: مېندې به خپلو اولادونو ته پوره دوه کاله تی ورکوي( دا حکم) د هغه چا لپاره دی چې غواړي د تي ورکولو مُدت پوره کړي.

کله چې دغه دوه کاله ماشوم ته بشپړې شیدې ورکول شي نو هغه د ژوند لومړۍ زرورځې ټوله په پام کې نیول کیږي. دا یوازې د ماشوم نه، بلکې د مور لپاره هم ګټور تمامیږي. که د طب له لیده ورته وکتل شي نو دوه کاله ماشوم ته د مور خپلې شیدې ورکول نه یوازې ماشوم ته ګټور دي، بلکې د مور لپاره هم ګټور تمامیږي. د شیدو په ورکولو سره د مور په بدن کې د اوکسي ټوسین Oxytocin په نامه یو هورمون خپریږي چې دا هورمون د مور او ماشوم ترمنځ مینه او عاطفه را منځته کوي. «۱»

د مېندوارۍ په موده کې مېرمنې د پخوانې وزن په پرتله زیات وزن اخلي او شاوخوا ۱۰ سلنه وزن یې د مېندوارۍ په ۹ میاشتنۍ موده کې ډېریږي. چې د دې وزن ډېرۍ برخه چربي یا وازګه جوړوي. دا چې د شیدو په جوړښت کې چربي اصلي رول لوبوي نو که چېرې مېرمن خپلې شیدې ماشوم ته تردوه کاله پورې ورکړي نو دا اضافه وزن( چربي) چې د مېندوارۍ په موده کې یې ترلاسه کړی وو هغه به په شیدو بدل شي او خپل وزن به بیرته نارمل حالت ته وګرځي چې دا کار د طب له مخې د مورد روغتیا لپاره ډېر ګټور تمامیږي. «۲»

### اولادونو ته تر ټاکلي وخته د شیدو ورکولو غوښتني:

اولادونو ته تر ټاکلي وخته شیدې ورکول څه غوښتني یا د ځان سره لازم کارونه هم لري، د هغه جملې دا خبره ده چې آیا د اولادونو کنټرول یا بندول روا دي که نه؟

د دې لپاره چې په مسألې سم پوه شو، نو دلته د دې خبرې په نظر کې نیول په کار دي چې یو د اولاد وژل دي او بل یې بندول دي. وژل یې که په هر ډول وي، لوی جرم دی؛ د دې تفصیل تردوهم عنوان( د ژوند حق) لاندې تېر شو.

د اولادونو بندول قتل نه دی، خو د روزۍ د نه رسېدو په عقیده یې بندول د اسلامي عقیدې سره سمون نه لري. که څوک داسې عقیده نه لري، د نورو ضرورتونو په بنسټ یې بندوي، دغه ډول بندول راتلونکي حالات او احکام لري:

یو لنډ مهاله بندول دي، بل اوږد مهاله بندول دي.

(أ) لنډ مهاله بندول که د کوم روا مقصد لپاره وي؛ لکه د اول ماشوم د شیدو وخت بشپړ کېدل، دا روا، بلکې غوره ده؛ ځکه د ماشوم د ولادت وروسته که تر دغه دووکلونو پورې چې اسلام ماشوم ته د شیدو په ورکولو ټینګار کړی، د حمل نیولو مخنیوی وشي نو هم ماشوم ته ګټور تمامیږي او هم یې مورته. ماشوم ته یې د شیدو په پوره کچه د رسېدو او مورته یې د نوي حمل نیولو لپاره د بدن د اړینو موادو پوره کېدل یې اړینې ګټې دي.

قرآن کریم فرمایي: ﴿ وَٱلۡوَٰلِدَٰتُ يُرۡضِعۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ حَوۡلَيۡنِ كَامِلَيۡنِۖ لِمَنۡ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَۚ ﴾ البقرة: ۲۳۳

**ژباړه**: میندې به خپلو اولادونو ته دوه بشپړ کلونه شیدې ورکوي ...

دلته آیت حکم کوي چې ماشومانو ته دې تر لازم وخته شیدې ورکول شي چې اصل یې دوه کاله دي، خو کله د ځینو قوي ماشومانو په هکله لږ هم کېدای شي. اولادونو ته تر ټاکلي وخته شیدې ورکول، کله د اولادونو کنټرول یا لنډمهاله بندیز هم غواړي؛ ځکه مخکني بچي ته تر ټاکلي وخته شیدې ورکول د ډېرو ښځو په هکله د اولادونو د کنټرول پرته ناشونی( غیر ممکن) کار دی. نو د الله د حکم سره سم د بچیانو روزولو په نیت، لنډمهاله اولاد بندول پروا نه لري، بلکې د الله د حکم غوښتنه ده؛ تر څو د وروستي بچي په وجه پر مخکني بچي شیدې خرابې نه شي. یا هم د مور ژوند په خطر کې پرې نه وزي.

بل دلیل دا هم دی چې الله تعالی فرمایلي: ﴿ نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٞ لَّكُمۡ ﴾ البقرة: ۲۲۳

**ژباړه**: ستاسو مېرمني تاسو ته د کرلو ځای دی.

په معقول ډول کرل دا دي چې اول حاصل بشپړ شي، وروسته بل څه وکرل شي. او کله مېرمني ځینې لنډمهاله طبي ستونزې لري چې حمل نیول یې ستونزه لا زیاتوي. په داسې حالاتو کې هم که چېرې میرمن د لنډې مودې لپاره مخنیوي وټاکي تر څو یې د یادې ناروغۍ یا طبي ستونزې درملنه وشي نو بیا وروسته یې بیا ځلي هغه موقت مخنیوی له منځه یوسي او د حمل نیولو پرېکړه ونیسي نو دا هم د طب او هم د اسلام له مخې یو جایز او معقول کار دی. ځکه د ژوند په خطر کې تر اچولو دا غوره ده چې لنډمهاله مخنیوی وشي. په دا توګه هم د مور او ماشوم ژوند له خطره وزي او هم د اولاد څخه نه محرومیږي.

(**ب**) اوږدمهاله بندول: که ضرورت وي پروا نه لري؛ لکه دا چې د طب د لارې ثابته شي چې حمل د مورژوند یا روغتیا په خطرکې اچوي؛ لکه داسې حالتونه چې مورد زړه په ناروغیو، د پښتورګو یا ګردو په ناروغیو، د وینې په ناروغیو، د وینې د لوړفشارپه ناروغیو، د وینې د غټې کېدو په خطرناکه ناروغیو او داسې نورو ناروغیانو باندې اخته وي چې مېندوارې یې د روغتیا وضعیت په خطرکې اچوي یا آن دا چې ژوند یې له جدي خطر سره مخامخ کوي، نو په داسې حالتونوکې و اېن تاکل یا هم د اولاد بندول مناسبه ده تردې چې د مورژوند په خطرکې واچول شي. ځکه دا ناروغۍ د مېرمنې ژوند د حمل نیولو وروسته او یا هم د زېږنې پرمهال په خطرکې اچوي.

ځینې بیا داسې عصبي ناروغۍ دي چې له مخې یې مېرمنې د ماشوم د زېږولو وروسته د ځان وژنې یا هم د خپل ماشوم د وژلو ګامونه اخلي چې په طب کې ورته د Postpartum psychosis یا Postpartum anxiety/depression اصطلاحګانې کارېږي. چې دا ستونزې په مستقیمه توګه د مور یا ماشوم ژوند په خطر کې نه اچوي بلکه په غیرمستقیمه توګه کېدای شي د مور یا ماشوم یا هم د دواړو ژوند په خطرکې واچوي.

په دا صورتونوکې د حمل څخه اوږدمهاله ډډه کولای شي؛ ځکه د انسان ژوند ژغورل یو ډېر اړین کار دی؛ په دې اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَمَنۡ أَحۡيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحۡيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۚ﴾ المائدة: ۳۲

**ژباړه**: څوک چې د یوه انسان ژوند وژغوري، ګویا چې د ټول انسانیت ژوند یې وژغوری.

کله کله بیا د طب د ځینې معایناتو پربنسټ دا تشخیص شي چې له مخې یې د مېرمنې حمل نیول یو ناقصه ارثي یا جینیټیکي ناروغیانو باندې اخته ماشوم نړۍ ته راځي. په دا حالت کې هم اسلام دا اجازه ورکوي چې اوږد مهاله و اېن وټاکل شي ځکه یو ناقصه ماشوم چې داسې خطرناکه ارثي ناروغۍ ولري چې یا یې درملنه نه وي او یا یې هم کورنۍ د درملنې اقتصادي توان نلري نو د عقل له مخې هم دا یوه معقوله پرېکړه ده چې د مېندوارۍ یا حمل مخنیوی وشي؛ تردې چې مور او پلار او کورنۍ د داسې ماشوم په درلودو سره د اقتصادي، روحي او فزیکي پلوه ټول عمر ځورېږي.

دا هم په شریعت او عقل ثابته خبره ده چې د مجبورۍ په حالت کې ډېر داسې څه روا کېږي چې په اختیاري حالت کې نه وي روا؛ په دې اړه الله تعالی فرمایلي: ﴿وَقَدۡ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيۡكُمۡ إِلَّا مَا ٱضۡطُرِرۡتُمۡ إِلَيۡهِۗ﴾ الأنعام: ۱۱۹

**ژباړه**: الله هغه شیان په تفصیل درته بیان کړي چې درباندې حرام کړي یې دي پرته د هغه څه چې ورته مجبوره شئ.

په دې آیت کې د( ما) کلمه کارول شوې ده او دا عامه ده. د مجبورۍ حالت د حرمته بېلوي، بېل حکم ورکوي. د اسلام فقهاء هم په هغه صورت کې چې د خاوند اجازه وي، ښځې ته دا روا بولي چې د اولاد مخنیوي وکړي. که ده خاوند اجازه نه وي، هلته یو څه اختلاف لري. خو بیا هم راجح او قوي د جواز ګڼې.

ابن عابدین شامي صیب په دې اړه فرمايي: يَجُوزُ لَهَا سَدُّ فَمِ رَحِمِهَا. «۳»

**ترجمه**: ښځې ته روا دي چې د خپل اولادځای (رحم) خوله بنده کړي.

په دې اړه نورو عالمانو هم مفصلي لیکنې کړي دي. «۴»

(**ج**) که ضرورت نه وي، بیا یې بندول نه دي روا؛ ځکه دا که څه هم قتل نه دی، لیکن د الله تعالی د اجازې او اړتیا پرته د الله تعالی د تحفې یا سوغات ردول دي؛ الله تعالی فرمایلي دي:

﴿لِّلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثٗا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ۝٤٩ أَوۡ يُزَوِّجُهُمۡ ذُكۡرَانٗا وَإِنَٰثٗاۖ وَيَجۡعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًاۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٞ قَدِيرٞ﴾ الشورى: ۴۹ – ۵

**ترجمه**: د آسمانونو او مځکې پاچاهي د الله تعالی ده. څه چې دی غواړي، هغه پیدا کوي. چا ته چې وغواړي ښځینه اولاد ( لوڼې ) وربخښي او چا ته چې وغواړي نارینه اولاد( زامن) وربخښي، یا زامن او لوڼې دواړې جوړې ورپه برخه کوي او چا ته چې وغواړي هغه بې اولاده ګرځوي؛ دی بې شکه پوره پوه بشپړ واکمن دی.

**مؤخذونه**:


۱- نړیوال تحقیق (https://pubmed.ncbi.nlm.nih.gov/21250892/).

۲- نړیوال تحقیق (https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC4312189/).

۳- رد المختار: ۳ / ۱۷۶.

۴– وګوره: الجنين المشوه للدكتور / محمد علي البار ص۴۳۹ ملحق رقم * ۱ *..

۵– ویبسایټ: په افغانستان کې د مېرمنو د روغتیا لومړی ویبسایټ www.hassanukasha.com